۱۴۰۴

# افغان کلتور او په معاصره نړۍ کې پرمختگ









Ketabton.com

ضیاءالرحمن ذهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

خلاصه........ 1
سریزه ........ 2
کلتور پیژندنه: ........ 3
رالف لینتون کلتور داسې تعریفوي: ........ 3
مادي کلتور........ 3
معنوي کلتور ........ 3
په معاصره نړۍ کې د افغان کلتور پرمختګ........ 4
د علم او پوهې په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ........ 4
د روغتیا په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ........ 4
د کرنې او مالدارې په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ ........ 5
د سوداګرې په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ ........ 5
د ورزش په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ........ 5
پایله........ 6
ماخذونه ........ 7

(c) ketabton.com: The Digital Library


**خلاصه**

کلتور د یوې ټولنې هغه ګډ دودونه او کړنې دي چې دهمدغه وګړو په واسطه رامنځته شوي وي، او راتلوونکې نسلونو ته دانتقال په حال کې وي. افغان کلتور د جګړو، سیاسي بدلونونو او بهرنیو یرغلونو سره سره لاهم د پرمختګ په حال کې دي، چې په علم پوهې، روغتیا، کرنه او مالداري او ځینو نورو برخو کې د پام وړ پرمختګونه کړي دي. افغانانو د تاریخ په اوږدو کې یوازې له خپل کلتور څخه ساتنه نه ده کړې بلکې د هغه بډاینې او پرمختګ لپاره یې نه ستړې کیدونکې هڅې کړې دي.


**کلیدي ټکې:** کلتور، معاصره نړۍ کې پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

کلتور د یوې انسانې ټولنې د عقاید، دودونو، کړنوۀ هنرونو او قوانینو هغه ټولگه ده چې د همدغه انسانانو په واسطه رامنځته شوي وې. افغان کلتور له تاریخي پلو ډیره اوږده مخینه لري، چې د مختلیفو تمدونونو، قومونو او تاریخي پیښنو له لاري یې وده کړي ده او ریښې یې تر اریایانو، بودایانو او زردشتیانو پوري رسیږي.

افغانانو د تاریخ په اوږدو کې یوازې له خپل کلتور څخه ساتنه نه ده کړي، بلکې د هغه بډاینې او پرمختګ لپاره یې نه ستړې کیدونکې هڅې کړي دي. په دې وروستیو لسیزو کې د افغان کلتور د پرمختګ لپاره د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري وخت په وخت نندارتونونه جوړ شوی دي. افغانان خپل کلتوري ارزښتونو ته ډیر درناوي لري. له خپل مادي او معنوي کلتور څخه یې ښه په میړانه دفاع کړي. او د پرمختګ لپاره یې ګډه هڅه تر سره کړي ده.

نن سبا خو په افغانستان کې د لاچاري پرمختګ نظریه ډیره مطرح کیږي. چې پر افغان کلتور یې مستقیم تاثیرات پریښي. په دې نظریه کې پخوانې شیان بد او حقیر ګڼل کیږي، او نویو شیانو ته ارزښت ورکول کیږي. هغه که دټولنې په ګټه وي خو ښه تر ښه او که یې په زیان وې هم پروا نه لري. کلتور خو د یوې ټولنې او قوم هویت دي نو طبعي ده چې پخوانۍ ریښې به لري خو که چیر د دغې نظرې لمخي حقیر او بد وګڼل شي نو ښکاره خبره ده چې کلتور له منځه ځې.

د کلتور په له منځه تلو سره د ټولنې او قوم هویت هم له منځه ځې داسي هم نه ده چې نوي شیان دې نه رامنځته کیږي، بلکې له نویو شیانو دې هغه څه رواخیستل شي چې په هغه کې د افغان کلتور ګټه او پرمختګ نغښتې وي، او هغه څه چې زمونږ دټولنې په ګټه نه وي او یا مو کلتوري ارزښتونو ته زیان رسوي باید پریښودل شي.

په ډیره مینه او درنښت

ضیاءالرحمن ذهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کلتور پیژندنه:

کلتور د یوې انسانې ټولنې د عقاید، دودونو، کړنوۀ هنرونو او قوانینو هغه ټولګه ده چې د همدغه انسانانو په واسطه رامنځته شوي وې.

**رالف لینتون کلتور داسي تعریفوي:** کلتور داسي یو مکتب دي چې په وسیله یې د ټولنې غړي خپل دودونه له یو نسل څخه بل نسل ته انتقالوي.

پورتنیو تعریفونو ته په کتو سره ویلای سو چې کلتور په ټولنه کې یو داسي یو پدیده ده چې د ټولنې او وګړو ترمنځ د اړیکو په ټینګولو کې هر اړخیز رول لوبوي. کلتور په ټوله کې په دوه ډوله ویشل کیږي چې یویې مادي کلتور دي او بل معنوي کلتور دي.

**مادي کلتور:** هغه کلتور ده چې لیدل کیږي او لمس کیږي او په ډیره چټکۍسره پرمختګ هم کوي.

**معنوي کلتور:** هغه کلتور ده چې نه لیدل کیږي او لمس کیږي د یوې ټولنې اصلي کلتور بلل کیږي. دغه کلتور نظر مادي کلتور ته هغومره په چټکۍ سره پرمختګ نه کوي ځکه دغه کلتور د ټولنې داخلي عقاید، افکار او اذهان دي نو دا طبعي خبره ده چې په اسانې پرمختګ نشي کولای. دلته د افغان کلتور په اړه لنډ عمومي معلومات وړاندې کوو.

- اصلي ژبې: پښتو او دری
- فرعي ژبې: ازبکی، ترکمني، بلوڅي، نورستانې، پشه یې او نوري دي.
- لوي قومونه یې لکه پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ چې هر قوم یې ځانګړي دودونه، لباس او فرهنګې ارزښتونه لري.
- اکثریت یې مسلمانان دي. ( اهل سنت او اهل تشیع)
- ودونه، ملمستیا، جرګې، دودیزي نڅاوي (لکه اتڼ) او مشورتي سیستم یې له مهمو دودونو او عنعناتو څخه ګڼل کیږي. همدارنګه اخترونه، روژې، عاشورا او نورو مذهبي مراسمو ته ځانګړي درناوي لري.
- جامې د قوم او سیمي له مخې فرق لري. نارینه یې اکثره کمس، پرتوګ، لنګوټه، واسکټ او خولې اغوندې او ښځینه یې دودیز کالي، چادري،ګنډلي او رنګینې جامې استعمالوي.
- غنی شفاهي ادبیات یې لکه متلونه، کیسي، لنډۍ او بدلي دي.
- سیمیز سازونه لکه رباب، ډول، تنبوره او داسي نور دي.
- دودیز خواړه لکه قابلي پلو، منتو، کباب، شوروا، بولانې او شوله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کلتوري ارزښتونه يې درناوي، حيا، غيرت، وفاداري او داسې نور دي.

**په معاصره نړۍ کې د افغان کلتور پرمختګ**

که وکتل شي افغان کلتور په اوسنۍ نړۍ کې په ځينو برخو کې تر ډيره ښه پرمختګ کړي ده. داچې ياد هيواد د اوږدې مودې لپاره د ابر قدرته هيوادونو تر مستقيم او غير مستقيم تاثير لاندې وو، نو دا طبعي خبره ده چې د افغان کلتور د پرمختګ په برخه کې به هتمن خنډونه موجود وو. خو داچې افغان کلتور د بدلون، دوام او نړيوالي پيژندګلوۍ يو نوي ښه غوره کړي ده له جګړو، مهاجرتونو او سياسي بدلونونو سره سره بيا هم افغان کلتور ژوندی، او اوس مهال په ځينو برخو کې د لا ډير پرمختګ په حال کې ده. چې لاندې ورته په لنډ ډول اشاره کوو.

**د علم او پوهې په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ**

افغان کلتور د تاريخ په اوږدو کې په علمي ډګر کې بې ساري پرمختګ کړي ده، چې اوسني مکتبونه، مدارس او پوهنتونونه يې ښکاره بيلګې دي. افغانستان ته د اسلام په راتګ سره علمي کلتور هم وده وکړه. علمي ځايونو او مدارسو ته پاملرنه د دې لامل سو چې افغان کلتور په پرمختللي او عصري علمي سيسټم باندې سمبال شي.

په لري پرتو سيمو کې د مدارسو تر څنګ د مکتبونو جوړښت، په هر کور اوکورنۍ کې د تعليم وده او دوديدل د دې ښکاره مثال دي، چې افغان کلتور د علم او پوهې په برخه کې پرمختګ کړي ده، خو دا پرمختګ کاپي نه ده. د علمي کلتور د پرمختګ لپاره بايد ټولنه د علم، کلتوري ارزښتونو او د علم په واسطه د کلتورپرمختګ په ارزښت پوه شي، او ټولنې ته دا ثابته شي چې د علم پراختيا د کلتوري او ملي پرمختګ لپاره څومره اړين دي.

**د روغتيا په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ**

د افغانستان روغتيايې سيسټم له تيرو څو لسيزو راهسې د پام وړ پرمختګ کړي ده. له هغه نه وروسته چې نړيوالو سازمانو د روغتيا په برخه کې خپلې مرستې زياتې کړي ورسره سم په ښارونو او کليوالو سيمو کې روغتيا مرکزونه منځته راغلل. خلکو په پراخه کچه هر ډول روغتيايې اسانتياوو ته لاس رسي پيدا کړ، هغه پخوانې درملنې چې د کليو د سپينږيرو، مشرانو او حاکمانو لخوا به تر سره کېدلې، په عصري روغتيايې سيسټم باندې بدلې شوې چې دا د افغان روغتيايې کلتور د پرمختګ ښه مثالونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کرنې او مالداري په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ**

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د کرنې  او مالداري پر بنسټ ولاړ اقتصاد درلود/ لري. که چیري په کلتوري لحاظ ورته وکتل شي دکرنې او مالداري په برخه کې به د  افغان کلتور د ښه پرمختګ شاهدان اووسو. په پخوانیو وختونو کې به د ځمکې اړولو یا یوې کول د څارویو په واسطه ترسره کیدل، همدارنګه باکیفیته تخمونو او کیمیاوې سرو شتون نه درلوده. تر ډیره به جوار یا غنم کرل کیدل، خلکو له نورو کښتونو سره بلدتیا نه درلوده، د غنمو او جوار میده کول به د څارویو په واسطه کیدل، چې دې کړنې به څو میاشتې وخت نیوو.  خو په اوسنې وخت کې د کرنې د کارونو دکولو لپاره د پرمختللو ماشینونو د شتون سره سره، باکیفیته تخمونه، کیمیاوې سرې د غنمو او جوارو ترڅنګ له نورو کښتونو او حاصلاتو سره د خلکو بلدتیا هغه څه دې چې د کرنې په برخه کې د افغان کلتور د پرمختګ ښکارندوي کوي.

اوس مهال د څارویو د روزنې او پالنې لپاره پرمختللي عصري سیستمونه کارول کیږي. مالدارانو ته د څارویو د ساتنې او پالنې لپاره  وخت په وخت روزنه ورکول کیږي. د څارویو منظم واکسینونه او د ساتنې او پالنې ځایونه د پخوا په نسبت په ښه ډول ترتیب شوي چې دا چاره تر ډیره په څارویو کې د ناوړه ناروغیو د مخنیوي لامل شوي ده.

**د سوداګري په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ**

داچې د افغانستان اقتصاد تر ډیره په کرنې او مالداري باندې متکی وو/ده. خو په دې وروستیو کلونو کې د سوداګري له پراختیا سره د افغانستان په  اقتصاد او کلتوري وده کې هم بدلون راغلي ده. ځکه د پخوا په نسبت اوس سوداګري لپاره زمینه مساعده شوي دي.

 د صادراتو کچه لوړه شوي ده، د افغانستان مهم تجارتې توکې د پخوا په نسبت په عصري سیستم سره تر نړیوالو بازارونو پوري رسیږي. همدرانګه په افغانستان کې د تولیدې فابریکو شتون، بانکې سیستمونه، صرافۍ او په کرښه سوادګرۍ د افغان کلتور د پرمختګ ښکاره مثالونه دي.

**د ورزش په برخه کې د افغان کلتور پرمختګ**

داچې ورزش او لوبې له پخوا څخه د افغان کلتور یو برخه ګڼل کیده، خو په دې وروستیو لسیزو کې له جګړو او امنیتي ننګونو سره سره د ورزش په برخه کې دپام وړ پرمختګ کړي ده. د افغان لوبغاړو لاسته راوړنې، د سپورتې بنسټونو شتون او په نړیوالو میدانونو کې د افغان لوبغاړو بریاوې، هغه څه دي چې د ورزش په برخه کې د افغان کلتور د بي ساري پرمختګ ښکارندوي کوي. افغانانو دپخوانیو دودیزو لوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅنګ اوسنۍ عصري لوبې هم د خپل کلتور برخه ګرځولي دي. چې د هغو له جملې څخه کرکېټ، فوټبال، فوټسال او واليبال د يادونې وړ دي. چې هم په ښارونو او هم کليوالو سيمو کې په پراخه کچه ترسره کيږي.

## پايله

افغانستان نږدې يو پيړۍ د نړۍ د دريو زبر ځواکونو تر مستقيم يرغل لاندې وو. دغو يرغلونو په هر برخه کې خپلې ستونزې تر شا پريښې دي، خو کلتور اړخ له دغو ستونزو څخه ډېر اغيزمن شوی دی. ځګه کلتور د يوې ټولنې د وګړو هغه ارزښتونه دي چې د هغې ټولنې تګلوري ټاکي. نو بناً هر يرغل کوونکې هڅه کوي چې لومړی هغه برخه تر خپل اغيز لاندې راولي کومه چې برخليک ټاکونکې وي. افغان کلتور په ډېرو ستونزو او مشکلاتو کې لاهم د خپل پرمختګ مزل هغسي ګړندی ساتلي دي او د ډېر سياسي او کلتوری خنډونو او يرغلونو سره سره بيا هم د پرمختګ په حال کې دي او په ځينو برخو کې يې د پام وړ پرمختګ کړي هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماخذونه**


1. دوپرې، نینسي. ژباړه، یون، اسماعیل. (۱۳۸۷) افغانستان فرهنګي میراثونو ته یو کتنه. یون خپرندویه ټولنه
2. غضنفر، اسدالله. (۱۳۹٦) کلتور او ټولنه. دوهم چاپ. مومند خپرندویه ټولنه. ننګرهار
3. عطایی، ابراهیم. (۱۳۴۴) هلمند د کلتور په ساحه کې.
4. تسکین، فرید احمد. (۲۰۱۳) د غربي کلتور پلي کیدل او زمونږ چوپتیا. پکتیا www.said-afghani.org
5. هاشمي، پوهنمل سید اضغر. (۱۴۰۳) پرافغاني فرهنګ د رسنیو بدي اغیزي www.nunn,asia.com
6. افغان کلتور www.wikipedia.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**